مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی اړین

۲۰۲۱/۰۱/۰۷

# ګلمرجانیزم نړیوال شو

دا یو څرګند حقیقت دی چي په یو ملک کي ټاکني د دموکراسۍ یا ولسواکۍ اصلي او محوري رکن او په حاکمیت کي د ټولو هغه هیواد والو چي د ټاکنو شرطونه پوره کولاي شي ګډون او برخه اخیستل اساسي دنده، حق او د رښتینو او عادلانه ټاکنو د مشروعیت یو بنسټیز شرط بلل کیږي.

زما په اند د افغانستان د بحران له پیل او بیا وروسته د بن د کنفرانس نه جوړو شوو حکومتونو، هغو په نوم نمایشي او ولس غولونکو دموکراسیو تمثیل کاوه، کوم چي غربیانواو په سر کي امریکا د خپلو موخو د عملي کولو له پاره تري ګټه اخیسته.

سره له دی چي دغه بحث خورا ډیر زور دي، کوم چي ورباندئ غږیږو.ټاکني په هر هیواد کي حیاتي ارزښت لری، اما په دی هم باید سره پوه شوو چي په افغانستان شانته یو هیواد کي چي څه کم څلویښت کاله د کورنیو او بهرنیو نیابتي جګړو په اور کي سوزیدلی وي، په داسي شرائطو کي یي، نه د یو ایډیال ټاکنو امکانات درلودل او نه هم نسبي ارماني داسي ټاکني چي یو مشروع حکومت او نظام تری رامنځته شوی وای، امکان درلود. که چیری بی پری، علمي، اخلاقي او انساني قضاوت وکړو، ایا زموږ هیواد په داسي شرائطو کي د رښتینو ټاکنو له پاره جوګه کیدای شو؟

زه خو وایم نه، هیڅکله هم نه.

غواړم پر هغو لاملونو او فاکتورونو یو څه رڼا واچوم چي د ټاکنو د قانونیت او مشروعیت له پاره یي اړین بولم:

- د یوی ټولني د عیني او ذهني شرائطو سمون د ټاکنو له پاره د ولس عام پوهاوی او د هغوی د ټولنیز او سیاسي شعور لوړوالی، د ټولني د روان بهیر سره برابره دموکراسي او د همدي دموکراسی د ماهیت نه د ټولني د وګړو ښه عیني درک د خان د ټاکلو او یا بل ته د رایو ورکولو په هکله. په داسي یو هیواد کي چي څه له پاسه دری لسیزی د یوي تپل شوي جګړي په اور کي ګړیدلی وي او ټولي مادي او معنوي شتمنی، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز بنسټونه یي ګډوډ او ټولنیز جوړښت بنسټونه له طبعي او اصلي افغاني حالت نه د ملي او بین المللي دښمنانو د توطیو او لاسوهنو په نتیجه کي په ټوله کي زیانمن او له منځه تللي وي او یا د وسلوالو، جنګسلارو، مافیایي قاچاقبرانو په ولکه کي هیواد او وګړي یي یرغمل وي څنګه به وشي کولای چي په خپله اراده او خوښه چاته رایه ورکړي.

د هیواد د دموکراسی کورني ښامارانو او بین المللي مدافعینو چي په حقیقت کي د دې هیواد اصلي دښمنان دي، له پیله د بن د کنفرانس تیره د هیواد د بربادی او د دي غمیزي د دوام له پاره کړه کیښوده، د هیواد واک یي د څو غلو او هیواد ته خاینو او هیواد پلورونکو کسانو په ولکه کي چي ګویا دا کسان د پښتنو، تاجکو، ازبکو او هزاره وررونو نمایندګان دي، په غیر عادلانه اندول د دوی تر منځ وویشل او په یو جنګ ځپلي هیواد کي یي پرته د شرائطو په نظرکي نیولو سره د غربي یوازي په نوم دموکراسی اواز پورته کړ، چي دغه په نوم دموکراسۍ د همغه پیل نه تر اوسه یوازی د ټوپکمار، جنګسالار، مافیایي حلقو او د هغوي د بین المللي پلویانو په ګټه د یوې وسیلي او وژونکي وسلي په توګه د بی وزلي ولس پر ضد کارول کیږی ، د اداري فساد په لوړه کچه موجودیت، د کار نه شتون، د خوراکي توکو د ارزښت لوړوالی د هیواد د محصولاتو د قیمت ټیټ والی او د بازارونو نه شتون د هیواد د وګړو ژوند دومره د ستونزو سره مخ کړی چي دی ته اړوزی خپله رای د ۵۰ یا۱۰۰ډالرو په مقابل کي وپلوري.

اوس نو ایا د یو ملي او وطن پال شخصیت له پاره د رښتینو او عادلانه ټاکنو د ګټلو امکانات لیدل کیږی؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- بله اړینه موضوع د رنو او عادلانه ټاکنو له پاره د یوه سیاسي خپلواک نظام شتون او د هیواد د اساسي قانون په چوکاټ کې د ټاکنو د خپلواک کمیسون او شکایتونو د کمیسون بی پریوالی او په ټاکنو کې یې د هیوادوالو او مدنی ټولنو، سیاسي ګوندونو، ټولنیزو او فرهنګی ټولنو نظر او څارنه په نظر کې نیول مشروعیت ورکولی شي.

له پورتنیو توضیحاتو نه می موخه دا ده چې دغو د بی وخته او صادرشوو دموکراسیو پایله دا شوه چې په هیواد کې دری څله د ګټونکي او بایلونکي تر منځ د نه منلو روحیه دومره په بی شرمۍ او سپین سترګۍ تر سره شوه چې د هیوادوالو او نړیولو له لوری ورته د «ګلمرجان یې نه مني» جمله په میډیا او رسینو کې خپره شوه.

زه نه غواړم چې د داسې هغو قانون ماتونکو څیرو نومونه واخلم چې یوازی یې عمل د شرمونکی پدیدی په توګه غندم او سوچ می دا دی چې د داسی کسانو اعمال به د هیواد په تاریخ کې د تور داغ په توګه ثبت شي.

درنو لوستونکو دا می لوستلی او لیدلی وو، چې د پرمختللو هیوادو د پرمختګ، تخنیک کلتور او فرهنګ پر وروسته پاتی هیوادو اغیزی خپروي او د تکامل او پرمختګ علت یې ګرزی، مګر د پرون راهیسی په سوشل میډیا، رسنیو او خبرونو کې وینم، اورم چې پورته اصل چپه وخوت، اوس د وروسته پاتی هیوادو کړه وړه په ډیر پرمختللی هیواد کې هم خپلی اغیزی درلودلی شي. دا دی، زموږ د هیواد دغه مشهورې جملې« ګلمرجان یې نه منی» په نړیوال ګلمرجانیزم واوښت او د یو خورا پرمختللی هیواد چې د نړیوالی دموکراسۍ سمبول و او دعوه یې هم لري دومره ژورې اغیزې وکړې چې د یو ستر زبرځواک هیواد چې د دنیا په نورو هیوادو کې د وګړو د دموکراتیکو حقونو دفاع کوي او د دموکراسۍ او د قانون د عملي کولو پلوي کوي د داسې یو هیواد د بایلونکي جمهور رئیس د پلویانو له لوري، د دغه هیواد پر کانګرس برید تر سره کیږی، چې د برید په نتیجه کې یو شمېر اعتراض کونکی ټپیان او هم وژل کیږی.




زه په دی باور یم چې په نړی کې له ډېری پخوا هر هغه زبرځواک چې د نړۍ په نورو وروسته پاتی هیوادو یې د خپلو شومو موخو له پاره ظالمانه چلند کړی په یو ډیر لږ وخت کې له سترو ماتو سره مخ شوی دی. شوروی اتحاد د دوستۍ په پلمه پر افغان ولس خورا ډیر ظلمونه وکړل، په میلیونونو افغانان یې ووژل، پایله یې نړیوالو او افغانانو په خپلو سترګو ولیدله چې هغه ستر زبرځواک ټوټه - ټوټه شو چې لا تر اوسه یې بیرته راټولولی نه شي.

د امریکا لپاره به دغه بی شرمانه حرکت د دوی د تاریخ هغه توره برخه وي چې کلونه ـ کلونه به نړیوال ورته د شک په سترګو وګوري او جبران به یې د دوی لپاره ستونزمن کار وي، په پای کې وایم چې:

**«مه کوه پر چا، چې وبه شې پر تا!»**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ